(c) ketabton.com: The Digital Library

ډنډ د شمالي ته شوم انګور ميزان وهلي
تاک شينکي زېړ چکي شو تالان پر خو پرېوللي
کوز تګاو ته لاړم داغوزو لويې ونې
پاس وختم غره ته د ځېړيو پاسنې پـــالنې
خلک وو، بازار وو، شورماشور وو، تله راتله وو
مېږې وې، شپانه وو، هياهوی و، سرۀ او شنه وو
نه د ويرو وه نښه، نه د غم وه نښـــانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکي مـــانه

بيا مې شو ګذر لکه ګوربت په لوی سالنګ
ويرې مې وزرې وې په څوکه په کـــرنګ
واورې سپينې سپينې ځلېدې لکه سپين زر
کوز رڼې اوبه وې، پرېوتلې لـــر وبر
زرکو او بلبلو يې په ترږکې سسندرې کړې
مستي زړې هوايي اندېښنې له زړه لرې کړې
مورګي ځلېدلې لکه زلفې په شـــانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکي مـــانه

خوب وينم: باغچه وې ټولې شنه په ښنا رونو
منځ کې يې صفه وې، ټولې پټې په تغرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواګې یې وياله کې د رنو او بو بهوپونه وی
زه یمه یاران وی، چمنونه، مجلسونه وی
بره خوا پیتهوکې شولې ځمکې باد ته اچوی
خېل وی د چنچنو، تیتې الوزی اتڼ کوی
ځمکه او اسمان په ګډه وایي ترانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکي مانه

خوب مي په وطن کې دی، خوړدن مي په وطن کې دی
خوب کې بچي هم مرمه، ځنکدن مي په وطن کې دی
قبر په وطن کې، ځنازه مي په وطن کې ده
تن مي په وطن کې دی، کپن مي په وطن دی
ما ته تابوت مه جوړوی، ما ته کلان مه راوړی
روح مي په وطن کې دی او تن مي په وطن کې دی
ګوندي يو شپونکی وطن قبول کړي نذرانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکي مانه

۱۹۸۵
واشنګټن

